مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شفیقه خپلواک ۲۰۲۱/۱۲/۱۵

# بیرغ



**بیرغ**

زما بیرغ

چې له رنګونو جوړ دی

اې

ته یې دا تور رنګ د وحشت رنګ بولې

خو

ماته دا سکون د تورې شپې رابښي

هغه، هغو تیارو ته ورته دی

چې زما ډیوې سترګې پکې بلې

او زړه مې پکې ساه اخلي

هر رګ مې پکې ساه اخلي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

هغه تور رنګ

د هغه ماښام رنګ ته ورته دی

چې زه مې د مين لارې پکې څارم

له هغو تيارو جوړ دی

په هغو تيارو کې

چې زه او جانان مينه کوو

او هميشه خبره سپينه کوو

*****

اخ دغه الون رنګ

چې ته يې جنګ بولې

او سرې خونکارې وينې ښکارې

خو داسې نه ده

هغه زما له سرکو شونډو جوړ دی

هغه زما د ګلاب زړه رنګ لري

هغه د هغې مينې رنګ دی

چې بيګاه مې مور راکړه

او د زيارت

ها نخاکره جنډه

*****

دغه زرغون رنګ

لکه زما پيغلتوب

لکه زما پسرلنۍ سترګې

لکه زما د مين

شنه او عطرينه غيږه

لکه په شنو پاڼو کې

د باران څو څاڅکې



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

لکه د خدای زړه سوی

لکه لطیف حسن

*****

زما بیرغ

زما پلو کې راشین

**دې ته ورته خبرونه**




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ